# پښتو معاصر شعر او عصريز مواد

## Conrtents in the Contemprery Pashto Poetry

Dr Naseebulah Seemab *


## Abstract:

The history of Pashto language and literature indicates patterns that are stemmed in the peculiar socio-cultural and economic realities. The themes and techniques are also evolved and nurtured in the light of the regional literature. The paper investigates and analyzes the processes of production of contemporary literature. The reflection of series of imposed wars and inherent conflicts has been one of the central themes of the poetry that is produced in the four prominent centers of Pashto literature. The scholar has presented and elaborated the poetic patterns of four different poets. The paper also describes the dialectical relationship between the tradition and modernity as concluding note.


زما د مقالې بنيادي پوښتنه دا ده چې "پښتو معاصر ادب له عصريزو موادو څخه برخمن دی که نهٔ؟". د دې پوښتنې د ځواب لاس ته راوړلو دپاره ضروري دا ده چې يو وار عصر وپېژندل شي او بيا ئې مواد وپېژندل شي نو بيا ډېر په اسانۍ سره دا پوښتنه ځواب کېداى شي.

د عصري معنا ده "د وخت و عصر، په عصر اړوند، له وخت و زمان سره برابر، نوى، ماډرن، لوکس"(1).

عصر هغه وخت او زمان ته ويل کيږي په کوم کښې چې انسان ژوند کوي يا يې کړى وي. عصر تر تېر وخت او زمان نوى وي ځکه چې هره ګړۍ نوې وي او له ځان سره نوي امکانات راوړي، دا نوي امکانات د ژوند په هر ډګر کښې راځي، ټولنه، اقتصاد، معيشت، کلتور دا رنګه ټول شيان د تغير و تبدل سره مخامخ کيږي. دا رنګه ادب هم د نوو شيانو

* Dr. Naseebullah Seemab is Associate Professor at Department of Pashto University of Balochsitan Quetta

سره پـه فکـري او فنـي حوالـه پېژنـدګلوي پيـدا کـوي. "پـه ادب کښـې نـوي رجحانـات د ټـولنيز، معاشـي او اقتصـادي حـالاتو د مختلـف تغيراتـو پـه نتيجـه کښـې پيـدا کيـږي. چـې کـوم وخـت پـه حـالاتو کښـې بـدلون شـروع شـي، پـه علومـو کښـې هـم نـوي نـوې لارې راوزي. د غـور او فکـر انـداز بـدليږي. ژونـد لـه نـوو نـوو خيـالاتو او شيانو سره پېژنـدګلوي پيـدا کـوي، بيـا دا اثـرات پـر ادب لـويږي، د ادب هـره څانګـه لـه دې خيـالاتو څخـه متـاثره کيـږي او نوې لارې خپلوي"(2).

اوس سـوال دا دی چـې د نـوي خيـال بنيـاد يـا د جدت بنيـاد د روايـت پـر نړېـدو اېښـوول دي، يعنـي د روايـت څخـه انحـراف، کـه پـر روايـت بانـدې اېښـول پـه کـار دی. زمـا پـه خيـال خـو زهٔ روايت او جدت د يـو بـل ضـد نـهٔ ګـڼم. بلکـې د يـو بـل مرسـتندوی يـې بـولم. کـه چيـري روايـت د جـدت مرسـته نـهٔ کـوي هغـه بيـا رجعـت دی روايـت نـهٔ دی. ځکـه چـې روايـت پـه ټولنـه کښـې د مثبـت ارزښـتونو (اقـدارو) د سـاتلو ذمـه واري پـه غـاړه لـري او ارزښـتونه د پېړيـو د تجربـو پـس پـه يـو قـام کښـې د ارزښـت مقـام تـه رسـېدلی وي. دا د هغـه قـام او ټـولنې د انفراديـت نخښـې جـوړې شـوې وي. کـه دا لـه منځـه ځـي نـو د قـام او ټـولنې انفراديـت لـه منځـه ځـي، د دې انفراديـت سـاتلو دپـاره د قـام دانشـوره طبقـه دا ذمـه واري پـه غـاړه لـري چـې ادب او ټـولنې تـه نـوی فکـر راوړي او دا نـوی فکـر د روايـت پـه دائـره کښـې د پراخـوالي باعـث وګرځـي د ماتېـدو باعـث نـهٔ، د عصـري غوښـتنو سـره سـم د روايـت دائـره چـې څـومره پراخېـدلی شـي پراخـه يـې کـړي. دغـه پراخـوالی د قـام انفراديـت لـه لاسـه نـهٔ ورکـوي بلکـې هغـه تـه نـوره ځـلا ورکـوي. او ضـرر رسـوونکي رسـومات، رواجونـه او هغـه رويـې لـه منځـه وړي چـې قـام د جمـود سـره مخـامخ کـوي او د عصـري غوښـتنو څخـه ئـې جـلا کـوي، پـه دې پـس منظـر کښـې د عصري موادو جائزه اخستل په کار ده.

اوس پوښـتنه دا ده چـې عصـري مـواد څـهٔ دي؟. دا مـواد د قـام، ژبـې او ادب د ګټـې پـه تنـاظر کښـې کتـل دي. کـه د اديـب د خوښـې او دلچسـپۍ پـه تنـاظر کښـې کتـل دي؟. د ژونـد د تېرولـو پـه حوالـه د هـر سـړي خپـل نظـر وي بيا په زياته د دانشورانو چې څرک يې په ادب کښې هم ليدل کيږي.

"زمونږ چې کومه نظريه د ژوند په حواله وي په علم او فن کښې هم زمونږ هغه نظريه وي، د يو باشعور کس دپاره دا ممکنه نۀ ده چې په ذهن کښې دي يې د ژوند مقصد واضح نۀ وي چې د يو کس په وړاندې يو مقصد وي نو د دې مقصد د حصول دپاره يې مختلفې ذريعې په ذهن کښې موجودې وي. فن، ادب او علم هغه مختلفې ذريعې په لاس ورکوي"(3).

دا خبره ښکاره ده چې ادب انفرادي او اجتماعي بڼه لري اوس عصريز مواد په کومه بڼه کښې کتل په کار دي. په اجتماعي بڼه که په انفرادي بڼه؟ او د کومو اديبانو ادب کتل په کار دی. په انفرادي بڼه کښې مونږ په ممکنه توګه هر اړخ وينو، خو د ژوند د مقصد په حواله چې کوم اړخونه دي هغه مهم دي. ځکه چې هغه د قام او ټولنې په فکري روزنه کښې مهم رول لري.

په ادب کښې د موادو په حواله زښت زيات اختلاف تر سترګو کيږي. مونږ داسې نظريات وينو چې په ادب کښې د موادو خبره کوي، په پښتو ادب کښې دوې درې داسې نظريې دي چې شتون لري په هغو کښې يوه نظريه د رومانويت ده. د رومانويت د موادو په حواله غوښتنه دا ده: "آزاد روي، نرګسيت، انفراديت پالنه، فطرت پالنه، فلسفيانه تصوريت او مثاليت، د ادبي ټولنيز او سياسي بنديزونو په خلاف بغاوت، مافوق الفطرت او له اسراره ډکو خبرو سره دلچسپي، تصوف او غير متمدن فطري ژوند و خوا ته رجوع کول، د جذباتو بې ساخته اظهار، عقل ته پر وجدان ترجيح ورکول"(4).

دا د رومانويت مهم نکات دي، دوی ادب له دې موادو څخه برخمن غواړي، بله د دې ضد نظريه د کلاسکيت ده. د دې نظريې غوښتنه دا ده چې: "قدامت پالنه، عقليت (عقل پالنه) نظم (تنظيم) اصول پالنه او اعتدال پالنه د کلاسکيت ښکاره خدو خال دی"(5).

په کلاسکيت کښې د ليکوال څخه د هغو موادو غوښتنه کيږي چې هغه پر عقل بنا لري، او رومانويت د عقل پر ځای د وجدان خبره کوي. کلاسکيت د اصولو د پابندي او تمدن خبره کوي او رومانويت د فطري

ژوند غوښتنه لري، بله نظریه په پښتو کښې چې زیاته خوره شوې ده هغه د ترقي پسندۍ نظریه ده چې په پښتو ادب کښې دوه اړخونه لري یو اړخ یې د ریالیزم (حقیقت پالنې) دی او بل اړخ یې هغه دی چې بنیاد یې د مارکس نظریه ده، د دوی غوښتنه دا ده چې: "کله د کارل مارکس اشتراکي نظریات عام شول نو په ادبي نړۍ کښې یې هم ازانګې خورې شوې، دا رنګه د ادبي کره کتنې یوه نظریه یا دبستان په وجود کښې راغلئ چې بنیاد یې د کارل مارکس او د هغۀ د مقلدینو اشتراکي افکار وو. دوی ادب دپاره د ژوند قائله دي خو د دوی په نزد د ادب جائز موضوع ژوند د طبقاتي کشمکش په هینداره کښې دی، د ژوند مادي او معاشي اړخونه زیات د اهمیت وړي دي. مارکسي کره کتونکي دا مطالبه کوي چې ادیب به د زیارکښو مفاد په نظر کښې نیسي او په طبقاتي کشمکش کښې به د مظلوم ملګرتیا کوي"(6).

دا رنګه د ریالیزم (حقیقت پالنې) ژوند څۀ رنګه دی باید هم هغه رنګه انځور شي د ټولنې او قام خوښې، ناخوښې، رسمونه، عقیدې باید په نظر کښې ونیول شي.د دې سره نورې نظریې چې بنیادونه یې پر نورو علومو لکه نفسیات، فلسفه، اقتصادیات، ټولن پوهنه او داسې نورو باندې پراته دي. هره نظریه دا غوښتنه کوي چې په ادب کښې مواد باید د هغې نظریې مطابق وي.

په پښتو ادب کښې چې د کومو نظریاتو په تفصیل ذکر وشو، شتون لري، نورې خال خال موجوده دي. په دې نظریو کښې اجتماعي بڼه دوې درې داسې نظریې دي چې لري ئې نورې ټولې په انفرادي بڼه کښې شتون لري. د زیاترو ربښې مونږ په زوړ ادب کښې وینو. پرته له ترقي پسندۍ چې په شلمه پېړۍ کښې څان ښکاره کوي. خو ترقي پسندي په پښتو ادب کښې په مختلفو بڼو کښې لیدل کیږي کله حقیقت پالنې ته نزدې شي کله کله کلاسکیت خپل کړي. او کله بیا د تصوف رنګه رومانوي نظریه هم خوښوي.

په لر و بر پښتون وطن کښې چې کوم ادب تخلیق کیږي هغه د پښتني ټولنې عکاسي کوي او د خپل عصر ترجماني کوي. په دې عصر کښې چې څۀ روان دي هغه ته په خپلو تخلیقاتو کښې ځای ورکوي.

ځینې لیکوالان د یوناني اساطیرو په مرسته د نن حالات انځوروي. ځینې فلسفیانه افکار هم لیدل کیږي. علامت نګاري، تجریدي لیکنې، د تحقیق سائنسي اپروچ دا ټول شتون لري. دلته یوه ستونځه لرو هغه دا ده چې دا هرڅهٔ په پښتني ټولنه کښې تخلیق کیږي، کتل دا په کار دي چې زمونږ ټولنې د خپل عصر سره څومره تګ کړی دی. د خپل عصر پر غوښتنو څومره پوره خېژي. که یې چیرې د پرمختللې ټولنې سره پرتله کوو نو په مینځ کښې ډېر سفر پاته دی.

پښتون ادیب خو تراوسه پورې د پښتو ژبې د بقا په جنګ اخته دی، د معیار د جنګ خبره خو ډېره وروسته ده. وطن یې د تود جنګ میدان ګرځېدلی دی. ټولنه، کلتور، تمدن یې د شکست و ریخت سره مخامخ دي. زمونږ ادب د دې ستونځو له موادو څخه پرون هم برخمن ؤ نن هم دی، پښتو ادب د یوې غمیزې (المیې) په غېږ کښې ژوند کوي. زهٔ د یو څلورو شاعرانو د شعر نمونې ستاسو مخ ته ږدم چې په پښتون وطن کښې وتلي او منل شوي شاعران دي. په اولس کښې هم او په ادبي نړۍ کښې هم، چې هغه د دې عصر شاعران دي، او د دې عصر ترجماني یې کړې ده، لومړی عبدالباري جهاني چې د کندهار د مرکز دی، وایي:

ستړګې ډکې ورم له اوښکو هر محل غزل ته ژاړم
هم مې خپل قلم ژړیږي هم د بل غزل ته ژاړم
ګودر وچ دی منګی نشته، نخرې هېرې دي له نجونو
پېزوان نهٔ زانګي د پېغلو پر اوربل غزل ته ژاړم
څهٔ سر توري دي په منډو هغه زما پښتني ښکلي
سور سالو یې پر سر نشته پر کاکل غزل ته ژاړم(7)

درویش دراني د کوټې د مرکز په نمائندګي را اخلم، وایي:

چې بیا نهٔ توره پورته شي نهٔ سر په وینو رنګ شي
باداره! دغه جنګ دي د وطن اخیري جنګ شي
که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

تــر ځــو بــه دوی پــه کلــي کلــي ګرځــي دا بــه وايــي
چــي دا مېنــه دي ورانــه شــي او هغــه کــور دي ړنــګ شــي(8)

د پېښــور مرکــز پــه نمائنــدګۍ د رحمــت شــاه ســائل د شــعر نمونــه وړاندې کوم:

ګــوره فطــرت مــي څــهٔ کــانې پــه ګــل ميــرو کــړي دي
د دړد غنــدلې پــه کښــې څوکــو د ازغــو کــړي دي
د ځلمــو څيــرې ګرېوانونــه شــو لالــه ګلونــه
پېغلــو تــر ځــان لــه کنــارې د لوپټــو کــړي دي
ارمــان ارمــان د وينــې وينــې پښــتونخوا ســپرليه!
چــي هــر زېــړ ګــل دي هــم جــامې د ســرو لمبــو کــړي دي(9)

د کابل مرکز په نمائندګۍ د پير محمد کاروان د شعر نمونه را اخلم:

جنــګ بــه يــې وژلــی وي د ســترګو جنــګ بــه راوړي
ګــوري بــه جنګــي اســان د ســولې رنــګ بــه راوړي
اوښــکې د خوښــۍ بــه ځــي لــه ســترګو څــپ څپانــدې
غېــږ کښــې هــره اوښــکه د زړګــوټي زنــګ بــه راوړي
ســره ســره ګلابونــه بــه بــاروتو کښــې را شــنه شــي
ګــل بــه شــي ورېمــې بــه شــي نشــې د بنــګ بــه راوړي(10)

د دې د مخــه چــي خپلــه خبــره مــخ پــه وړانــدې يوســم، د دې شــاعرانو پــه حقلــه د نــورو ليکوالانــو نظــر وړانــدې کــوم، محمــد اکبــر کرګــر د جهــاني د شعر په حواله وايي:

"جهــاني د ويښــتابه د پــړاؤ شــاعر دی، داســې چــې کــه لــه يــوې خــوا د سـليمان لايـق، اسـتاد بېنـوا، خـان عبـدالغني خـان او نـورو سـره مشـهور وو، نـو لـه بلې خـوا د ځوانـو شـاعرانو سـره هـم بې اړيکـو نـهٔ ؤ. سـره لـه دې چـې د جهـاني پـه شـعرونو کښـې د پښـتو کلاسـيك ادب خپـل موجوديـت او حضـور پـه ښـه توګـه سـاتي او د کلاسـيك فـورم پـه پـل تللـی دی. خـو د نـوې زمـانې او

نوي دوران اغېزې د شعر نوې ولوله بې قافيې ازاد او نور شعري ډولونو نمونې هم کمې نۀ دي"(11).

د درويش دراني په باب پوهنمل بريالی باجوړی ليکي:

"په اوسني وخت خبره کوو نو پښتو شعر د اوسني وخت غوښتنو ته ځواب نۀ لري، له نېکه مرغه په اوسني وخت کښې دوه تنه داسې شاعران شته چې په دغه پل روان دي، يعني د خوشحال خان عنعنه پالي چې يو يې درويش دراني او بل يې رحمت شاه سائل دی. خو دا هم بايد ووايو چې درويش خپله ټوله شاعري دغه مقصد ته وقف کړې ده. د درويش په شاعرۍ کښې هغه څۀ په نظر راځي چې د خوشحال په شاعرۍ کښې ؤ خو په دومره توپير چې خوشحال د خپل وخت او خپل اجتماعي موقف له مخې په خپلو ويلو کښې تونـد، ډاډه او بې پروا وو. د درويش په وينا کښې د شاعرۍ عاطفه، صداقت او خواخوږي ډېره غالبه ده"(12).

صاحب شاه صابر د رحمت شاه سائل په حقله ليکي:

"ښاغلي سائل د پښتنو د قامي ژونده راووتی او په قامي ژوند کښې ننوتی شاعر دی"(13).

د دې شاعرانو د شعر نمونې او د هغه پس د دوی په حقله رايه وړاندې شوه. د دې ټولو څخه يو شی په ثبوت رسيږي هغه دا چې کوم فکر چې خوشحال خان خټک، درلود بعينه هغه فکر زمونږ د نن په عصر کښې ليدل کيږي. کومه خبره چې خوشحال خان خټک د خپل عصر د غوښتنو سره سمه کوله هغه خبره د نن د عصر د غوښتنو سره کيږي.

"پوه او هوښياري، اتفاق او اتحاد، لالچ پورته يادې شوې درې خبرې تر خوشحال وړاندې هم د پښتنو د درپدرۍ سبب وې او له خوشحاله پس تر ننه پورې هم پښتون د دغه درو خبرو له کبله خوار دی"(14).

له تېرو پينځوسو کلونو راهيسې پښتون اديب له عصر سره سمه خپله وظيفه پوره کړې ده او دا خبره د زياتو کره کتونکو او محققينو په ليك کښې ښکاره کيږي نو بيا پوښتنه دا ده چې پر اولس يې اغېزه څومره کړې ده؟ که يې کړې ده نو بدلون څومره راغلی دی؟ که بدلون راغلی دی نو بيا ښکاره کيږي ولې نه؟. دا هغه پوښتنې دي چې د نن د

عصـر د دانشـور څخـه ځـواب غـواړي، هـر سـړی بـه خپلـه پـه دې هکلـه خپـل نظـر لـري خـو زمـا پـه خيـال پښـتون اولـس او شـاعر چـې کـوم فکـر خوښـوي. او شـاعر يـې خپلـه وظيفـه ګڼـي او د عصـر ترجمـاني بـولي او اولـس چـوچکې وربانـدې ټکـوي هغـه داسـې ګرځېـدلی دی لکـه د ډاکټـر هغـه نسـخه چـې مريض ته نشه ورکوي د يو ساعت دپاره يې ارامويء علاج يې نهٔ کوي.

پښـتون دانشـور پـه هـر وخـت کښـې د قـام پـه غـم ژړلـي دي اولـس يـې هـم ورسره ژړولـی دی. د مغلـو چپـاوون خـو خوشـحال خـان خټـك رنګـه دانشـور پيـدا کـړ، د نـن حـالات چـې د مغلـو څخـه بـدتر دي خوشـحال خـان رنګـه دانشـور بـه پيـدا کـړي؟. هـو پيـدا کـولای يـې شـي خـو د تقليـد پـر ځـای بـه د انحـراف رويـه خپلـوي لکـه خوشـحال خـان خټـك چـې خپلـه کـړې وه. خوشـحال خـان خټـك د روايـت پـه دائـره کښـې دومـره بـدلون راوسـتی چـې نـوی رنـګ يـې ورکـړی، زمـونږ دانشـور د خوشـحال تقليـد کـوي هغـه زوړ فکـر و فـن بـه نـوی رنـګ ضـرور لـري خو فکر هغه دی. د راز محمد راز له دې خبرې سره په اتفاق چې ليکي:

"زهٔ پښــتانهٔ او پښــتو ژبــه د يــوهٔ وجــود دوه حقيقتونــه ګــڼم. زهٔ د انســاني وســايلو د سائنســي ترقــۍ پــه څنــګ کښــې د پښــتنو ترقــي او بقــا د مــورنۍ ژبـې د ترقـۍ سـره تړلـې ګـڼم. دا اوس د پښـتو ژبـې يـوه تـاريخي وظيفـه او هـدف راتـه معلـومېږي چـې دا بايـد د پښـتنو ليکوالـو د نـوي کهـول پـه توسـط سـره د فلسـفې او سـائنس د فلسـفې سـره خپلـه پېژنـدګلوي پيـدا کـړي. او پښـتانهٔ لـه هغـه فکـري او رجعتـي مغـالطو څخـه خـلاص کـړي چـې اوس ئـې د وينې برخه ګرځېدلې ده"(15).

مـونږ پرونـد هـم مقلـدين وو نـن هـم يـو او دا تقليـد زمـونږ پـه ذهـن کښـې فکـري جمـود راوسـتلی دی. دې فکـري جمـود مـونږ تـه د کـاهلۍ بهانـه پـه لاس راکـړې ده، ځکـه پـه عملـي توګـه نهٔ دانشـور او نهٔ سياسـت مـدار د پښـتو ژبـې پـه پرمختـګ ګامونـه پورتـه کـوي چـې ژبـه ترقـي وکـړي هلـه بـه د قـام حالـت بـدلېږي، د نشـې څخـه بـه را ووزي بيـا بـه اولـس تـش خبـرې نهٔ ټکـوي، عملـي ګامونـه بـه هـم پورتـه کـوي، او خپـل هغـه دښـمن بـه پېژنـي چـې تراوسـه پـورې يـې نـهٔ دی پېژنـدلی ځکـه چـې دښـمن يـې تـل د دوسـت پـه بڼـه کښـې راغلی وي، د دوستۍ په رشته يې پښتون د پښتون دښمن ګرځولی دی.

# حوالې

(1) زاهد، پښتو - پښتو سيند، کابل، د افغانستان د علومو اکاديمي، 2006ء، مخ 291.

(2) عبادت، بريلوي، ډاکټر، اردو تنقيد کا ارتقاء، (پنځم اشاعت) کراچي، انجمن ترقي اردو پاکستان، 2001ء، مخ365.

(3) رفيق، سعيد احمد، پروفېسر، فن اور مطالعه فن، کراچي، قمر کتاب گهر، 1988ء، مخ 9- 108.

(4) حفيظ، صديقی ابو الاعجاز، کشاف تنقيدي اصطلاحات، اسلام اباد، مقتدره قومی زبان، 1985ء، مخ 91، 92.

(5) هم دغه، مخ 150.

(6) هم دغه، مخ 163.

(7) حسنٰی، درې مياشتنۍ، پښين، دريم کال دويمه ګڼه، 2012ء، مخ4.

(8) درويش دراني، دا بوټي به لونګ شي، (دويم چاپ) کوټه، صحاف نشراتي مؤسسه، 2010ء، مخ18.

(9) سائل، رحمت شاه، غرمې لمبې لمبې، ملاکنډ، پښتو ادبي جرګه، 2011ء، مخ1.

(10) کاروان، پير محمد، د ښاپېرۍ ورغوی، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه، 2009ء، مخ 162.

(11) کرکر، محمد اکبر، د شعر درناوی، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، 2009ء، مخ 183.

(12) بريالی، باجوړی، د درويش دراني شعر، حسنٰی درې مياشتنۍ، پښين دريم کال دويمه ګڼه، مخ21.

(13) صابر، صاحب شاه، څوك د سائل قلم، د څراغونو نه لمبې ووتې، رحمت شاه سائل، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، 2008ء، مخ 9، 10.

(14) دروېش دراني، شاعري د خوشحال، جرس درې مياشتنۍ، کراچي، اپرېل ستمبر 2002ء، مخ 39.

(15) راز محمد راز، پروفېسر، پښتو ژبه او فلسفه، حسنٰی درې مياشتنۍ مجله پښين، دويم کال دويمه گڼه، 2012ء، مخ6.